۱۶ جوزا ۱۳۸۱

**خلک د خپل ژوند د دوام په اړه اندېښمن او د سخت فقر سره لاس او ګرېوان دي.**

مطبوعاتي اعلامیه

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په افغانستان کي د ټولنیز او اقتصادی حقونو د وضعیت په اړه خپل څلورم راپور خپور کړ. دغه راپور د افغانستان د دولت پرمختګونه او هغه ستونزې په ګوته کوي چې د افغانستان د خلکو د اقتصادي او ټولنیزو حقونو د تامین لپاره په کال ۱۳۸۷ کې څېرلي وو ځانګړي وړاندېزونه د دغو حقونو د تامین لپاره په افغانستان کې مطرح کوي.
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د سیمه ییزو څانګو د ټیمونو او د ملګرو ملتونو د مهاجرینود څانګې سره په ګډ کار کې د څه د پاسه ۱۲۰۰۰ تنو سره د هېواد په ۳۰ ولایتونوکې مرکې کړي او راټول شوي معلومات د دغه راپور اصلی بنسټ جوړوي. همدا رنګه د نورو دولتی او نا دولتی موسسو سره، د خلکو استازو په مرکو کې د دوی نظریات هم په کې شامل شوي دي . د یادوني وړ ده چې هغه زیانمنونکي ګروپونه او هغه خلک چې په لرو پرتو سیمو کې اوسیږي په دغه راپور کې دوی ته هم خاصه پاملرنه شوي ده. په دغه راپور کې د دوو بنسټیز او قانونی سندونو څخه چې یو یې د افغانستان اساسی قانون او بل یې نړیوال اقتصادی، ټولنیز او کلتوري حقونو میثاق چې د افغانستان دولت په ۱۹۸۳ م کال کې ورته ژمن او متعهد دی او همدارنګه ورته نور اړونده ستراتیژی لکه د افغانستان د پراختیا ملی ستراتیژي (ANDS) او زریزه پراختیایي هدفونه هم په کې په پام کې نیول شوي دي.
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د رییسي مېرمن ډاکټر سیما سمر په وینا " که څه هم اوسنی ژمني ، ستراتیژی او سیاستونه چې د افغانستان د خلکو د اقتصادی او ټولنیز وضعیت د ودې او پراختیا د پاره موجودې دی لا هم ډېر شمېر خلک نارینه ، ښځینه او ماشومان د فقر ، بیکاری، ډول ډول تو‌پیرونو ، صحی ستونزو، ښوونه او روزنه او د پټن ځایونو د نشت والي څخه سر ټکوي".

**<u>د دغه راپور د موند نو لنډیز په لاندې ډول دی:</u>**

- د دغې راپور څېړني ښیي چې د فقر په کچه کې د تېر کال په پرتله کوم څرګند بدلون نه دی راغلی. ٪۳۶ مرکه شوي خلک له ۵۰ افغانی څخه کم عاید لري چې د یو امریکایی ډالر سره پرتله کېدای شي، ٪۱۹.۲ خلک د ۵۰ افغانی څخه ډېر عاید لري ، ٪۴۴.۸ هغه وګړي دي چې وزګار دي په داسې حال کې چې تېر کال شاوخوا ٪۳۷ مرکه شویو کسانو ویلي وو چې ۵۰ افغانی په ورځ کې عاید لری.
- د پور یا قرض کچه په تېزی سره اوچته شوي ده ، د خپلواک کمیسیون موندنې ښیي چې ۶۳.۹ ٪ مرکه شویو خلکو ویلي دي چې د دوی کورني پوروړي دي. هغه ارزوني چې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په کال ۱۳۸۴ کې تر سره کړي وې د هرې کورنی د پور د اوسط کچه ۵۷۷۵۰ افغانی چې د ۱۱۵۵ امریکایی ډالرو معادل کیږي اټکل شوې وه . په داسې حال کې چې د خپلواک کمیسیون موندنې ښیي چې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې په اوسط ډول هره کورنی ۱۰۲۳۹۲ افغانی چې د ۲۰۴۷ امریکایی ډالرو سره معادل کیږي پوروړي وه چې دا رقم ۹۰۰ ډالره د هرې کورنی د پور ډېر والی ښیي.
- د کار موندلو او د ژوندانه د یوې مړې ډوډۍ لپاره مهاجرت کول د افغانان د ستونزو په وړاندې بل خنډ دی. د هغه ٪۹۶ ډېر مهاجرین چې په نا قانونه توګه د ایران هېواد ته تللي وه ٪۸۷.۳ په شاوخوا کې (۳۲۸۸) کسانو بیکاري او د کار نه موندل د خپل مهاجرت اصلی لامل ایران ته تګ بولي. په کال ۱۳۸۷ په شاوخوا کې ٪۴۴.۷ هغه را شړل شوي مهاجرین وو چې ایران هېواد ته وروسته د ستنېدلو څخه یعني مخکې له د چې په کوم کار وګمارل شي راویستل شوي . باید وویل شي چې اکثره هغه را شړل شوي مهاجرین هغه کارګران دي چې خپلې شتمنی یې په ایران کې پاتې دي.د دوی ٪۷۲.۲ د معاش نه ورکول،٪۱۹.۶د کار مخکنی پیسې یا بیانیه نه ورکول ، ۶.۴ ٪ نا ورکړل شوي پورونه خپلې هغه مالی نیمګړې ستونزې بولي چې د حل لارې ورته نه دي موندل شوي. دا ښیي چې ٪۹۹.۸ مهاجرینو ته دا وخت نه دی ورکړل شوي چې دوی د ایرانیانو سره خپل مالی حسابونه پاک کړي.

- هغه ماشومان چې د ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۸۷ لمريز کال پورې په کار بوخت وه ښيي چې د دريو کلونو په دوران کې د دوی په شمېر کې کوم بدلون نه دی راغلی. په ۱۳۸۷ لمريز کال کې ۳۸٪ مرکه شويو ويلي وه چې د دوی د ۱۵ کلنۍ څخه د ټيټ عمر لرونکي ماشومان کار کوي.
- د حکومت کاري پروګرام د معلوليت لرونکو خلکو د ټولنيزخونديتوب لپاره نا کافی ګڼل شوی دی. او دغه پروګرامونه نشي کولای د دغو خلکو ضرورتونه پوره او ستونزو ته يې د حل لارې پيدا کړي. د افغانستان ملی شورا د معلوليت لرونکو وګړو لپاره پرته لې ۴۰۰ نه تر ۶۰۰ افغانيو پورې معاش بل هيڅ ډول مالي مرسته د دوی د ساتنې او خونديتوب لپاره نه ده تصويب کړې.
- کوچيان لکه د نورو زيان منونکو ګروپونو په څېر له ټولنيزو خدمتونو څخه لکه ښوونه او روزنه او د صحت له حق څخه محروم دي. دغو خدمتونو ته د دوی لاس رسی لکه د ټولنې د نورو وګړو په شان ډېر محدود دي. يوازې ٪۳۳.۶ د کوچيانو ماشومان په منظم ډول ښوونځی لاس رسی لری په داسې حال کې چې٪۶۶.۴ د کوچيانو ماشومان اصلاً ښوونځی ته نه ځي او يا په نا منظم ډول کله نا کله ښوونځی ته ځي. د افغانستان د اساسی قانون د ۱۴مې مادې له مخې دولت تر اوسه هيڅ يو رغنده ګام چې د دوی د کورونو درلودل يکې تضمين کړي نه دي پورته کړي. د دولت دغه عمل د دې سبب ګرځېدلی چې د کوچيانو او سيمه ييزو خلکو په منځ کې جدي ستونزې را ولاړې شي چې په پايله کې دواړو خواووته مالي او ځاني تاوانونه رسېدلي دي.
- ښځې په افغانستان کې په ډېر سختو ستونزو لکه جبري ودونه ، په بدو کې ورکول ، د جنګو په ټيټ عمر کې ودونه ، بدل ، وهل ټکول ، دوی ته په نا سمه توګه کتل ، د نفقې نه ورکول، په ټولنيزو چارو کې ونډه نه ورکول او د دوی مانع کيدل، جنسي تيری او آن دا چې وژل د دوی دې جدي مشکلاتو څخه ګڼل کيږي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون په هغه راپور کې چې په کال ۱۳۸۷ د ښځو د تاوتريخوالي په اړه ښيي چې ٪۴۲.۲ ښځې وهل او ټکول شوي، ٪۹.۳ د جنين سقط ، ٪۸.۳ د نفقې نه ورکول او ۶.۷ ٪ جبري ودونه ثبت شوي دي.
- تر ټولو لوی مشکل د کابل په ښار کې د پاکو اوبو نشتوالی دی . ٪۷۰ هغه مرکه شوي خلک چې ورسره مرکه شوي ده پاکو اوبو ته لاس رسی نه لري او د هغو څاه ګانو څخه استفاده کوي چې په سمه توګه پوښول شوی نه دی. د تشنابونو او ټيټي ناپاکه اوبه په کابل کې ژور څاه ګانو ککړ کړي دي چې بايد ورته پام وشي. د کميسيون د موندنې پر بنسټ ٪۳۳.۷ خلک په ټول افغانستان کې ويلی دي چې د څښاک اوبه يې پاکې او صحی نه دي.
- د هغه لاسته راوړنې چې د صحت په برخه کې موجودې دي لا هم د پام وړ ستونزې د خلکو پر مخ پرتې دي. خلک صحی خدمتونو ته لاس رسی نه لري . ٪۶۲.۴ مرکه شويو کسانو دولتی او د نا دولتی موسسو صحی خدمتونو ته لاس رسی لری، ٪۳۷.۶ مرکه شويو خلکو دولتی اونا دولتی صحی خدمتونو ته لاس رسی نه لری او ۲۹.۹ ٪ مرکه شوي خلکو ويلي دي چې د صحی مرکزونو د لرې والی او د دوا د خراب کيفيت د سهولتونو نشتوالی د کم تجربه صحی کارکونکو له وجه د دولتی او د نا دولتی موسسو د صحی خدمتونو څخه ګټه نه اخلي.
- د ښوونې ته د لاسرسي مشکل لا اوس هم نه دی حل شوی. د ٪۴۶ شاوخوا کې د ماشومانو نفوس د ښوونې د لاسرسي څخه بې برخې دي. چې ټول ۵۳۰۰۰۰۰ ماشومانو ته رسيږي چې دغه شمېر په نړی کې د ماشومان ٪۷ حوړوي چې له ښوونځي څخه بهر پاتې شوي دي چې د هېواد د وګړو د شمېر په پام کې نيولو سره دغه يوه ډېره لوړه شمېره او ټکان ورکوونکی ده. د کميسيون موندنې ښيي چې ٪۶۰.۲ زده کوونکي (٪۶۶ هلکان او ٪۵۴.۳ جنکی)په منظمه توګه ښوونځی ته ځي. په نا منظمه توګه په ښوونځی کې د زده کوونکو شمېره د دوی د ښوونځی ټيټ کيفيت ، د لارې اوږدې فاصلې، د ماشومانو کار ، په ټيټ عمر کې ودونه اونور لاملونه دي.
- کار موندل د افغانستان د خلکو لومړيتوب ګڼل کيږي د سيمه ييزو څارونکو څانګې موندنې ښيي چې اکثره مرکه شوي خلک په خپلو مرکو کې د کار موندل ، د څښاک پاکې اوبه او صحي خدمتونه خپل لومړني ضرورتونه ښودلي دي . ٪۱۹.۷ مرکه شوي خلکو د کارموندل ، ٪۱۳.۸ د څښاک پاکې اوبه، ٪۱۲.۸ د صحي خدمتونو ښه والی، ٪۱۱.۷ خوراکي توکي ، ۱۰ړ٪۹ ښوونې او روزنې ته د خپلو کورنيو لومړيتوب ښودلی دی. مرکه شوي کسانو مخکې له د نه چې د امنيت ، بياجوړونه او نورو مواردو ته لومړيتوب ورکړي هغو موضوعات ته يې لومړيتوب ورکړی دی چې دوی عملاً په ژوندانه کې ورسره لاس او ګرېوان دي چې د پورتنيو ارقامو څخه داسې ښکاري چې خلک د خپل ژوند د دوام او د فقر په شته والي سره اندېښمن دي.

**وړانديزونه:**

1. د هغه مهاجرو کارګرانو چې په ايران کې مېشت دي د افغانستان دولت بايد موثرې لارې چارې ولټوي تر څو د دوی کارکول رسميت پيدا کړي دا ټول د دوو حکومتونو د ښه اړيکو له لارې منځ ته راتلی شي.
2. د افغانستان حکومت بايد د خلکو د ژوندانه د کچې د لوړولو لپاره خلکو ته د کار موندلو ، د معيشيت د ښه کولولپاره زمينه برابره کړي خلکو ته د کار پيدا کول په خپلو لومړيتوبونو کې راولې نو لازمه ده اقتصادی پاليسی د په پام کې ونيسي.

3. د افغانستان حکومت دي حرفوي زده کړې هغو کارګرانو ته برابرې کړی کوم چې کسب او مسلکي زده کړی نلري. حکومت دي له دې سره سره خفیفه صنایعو ته وده ورکړي .
4. د یوه پراخه ټولنیز خوندیتوب په چوکاټ کې دې دولت باید ټول هغه خلک چې د ټولنیز خوندیتوب وړ دي لکه معلولیت لرونکی خلک ، هغه کورنی چې د سرپرستی څوک یې نشته او د ښځو او ماشومانو ساتنه ور په غاړه ده هغه ماشومان چې له خطر سره مخامخ دي، کورنی بې ځایه شوي ، سپین ږیري او زاړه خلک او هغه کورنی چې د ۸ څخه ډیر شمیر ماشومان لري په ګوته او ثبت کړي او د دوی د مرستې لپاره داسې یو میکانیزم چې د افغانستان د ملی پراختیایي ستراتیژی سره برابر وي تطبیق او پیاوړي کړي.
5. د ودونو د ثبت او نکاحنامې کارول دې په ټول هیواد کې عام شي او د نکاح د ثبت مرکزونو ته دې د خلکو لاس رسی په ټول ځایونو کې جبري شي.
6. د افغانستان حکومت دې د عدلی او قضایي اصلاحاتو بهیر په هیواد کې ګړندی کړي تر څو خلک پر دولت باور پیدا کړي او وکړای شي د ملکیتونو پر سر ولاړې شخړې ته په هیواد کې د پای ټکی کیږدي.
7. د افغانستان حکومت د فقر د له منځه وړلو او لوږې بر وړاندې د خوندیتوب اوږد مهاله ستراتیژي د هیواد د لومړیتوبونو په رڼا کې جوړه کړي.
8. د هیواد د بنسټیز اقتصادي ټینګښت او د کلیو پراختیا چې د اقتصادي پراختیا برخه ګڼل کیږي حکومت خلکو ته د پاکو اوبو د رسولو پروژې تمویل کړي او د اړونده مسوولینو د پوهاوي د کچې د لوړولو لپاره هڅې پیل کړي.
9. سیمه ییز صحي کارکوونکي باید د خلکو د ضرورت او غوښتنې سره سم د هغو زیان منونکي کلیوالو خلکو د ماشومان د زیږیدو مخکې او وروسته ستونزو په پام کې نیولو سره وروزل شي او ښځې دي و هڅول شي تر څو د ډاکتر ، قابلې او نرسې په توګه روزنه ورکړل شي.
10. حکومت باید د خلکو د اوسیدوپه نظر کې نیولو سره د استوګنې د ځایونو او کلینیک د واټن تر مینځ جوړول په متوازنه توګه ترسره کړي.
11. دولت دې باید پر صحي پروژو زیاتې پیسې ولګوي او د دوا او صحي کارکونکو کیفیت او ظرفیت ته د جدي پاملرنه وکړي.
12. د فقیرو او محرومو ماشومانو لپاره ښوونه او روزنه په کلیوالو سیمو کې په خاصه توګه د جنګیو ښوونه او روزنې ته خاصه توجه وشي او همدارنګه د ښوونې او روزنې او تعلیمي نصاب کیفیت د نویو میتودونو پر بنسټ جوړ او ورته د جدي پاملرنه وشي.
13. دولت دې د ښوونې او روزنې په وده کې چټک ګامونه اوچت کړي او ورته دې جدي پاملرنه وکړي او د جنګیو د شمولیت لپاره خاص اقدامات تر لاس لاندې ونیسي . د ښځینه ښوونکو ښوونه او روزنه په منځنیو ښوونځیو او لیسو کې یو له موثرو لارو چارو څخه ګڼل کیږي.
14. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ټولو ښکیلو ډلو څخه په جدي توګه غواړي چې نړیوال بشر دوستانه قوانین رعایت وکړي ، پر ښوونځیو ، صحي مرکزونو او نور عام المنفعه مراکزو ته دې زیان و نه رسوي او د خلکو د معارف او صحي خدمتونو ته د لاس رسي خنډ و نه ګرځي.

دغه راپور کولای شی چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ویب پاڼې څخه په دریو ژبو دري،پښتو او انګریزی تر لاسه کړی www.aihrc.org.af
د نورو معلوماتو لپاره د دغو شمیرو له لیاري اړیکې نیولی شی:
۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰۶۷۶ ـ ۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰۶۷۷ ـ ۰۰۹۳۷۹۴۶۳۱۸۱۶ ـ ۰۰۹۳۷۹۹۱۵۶۳۹۰ ـ ۰۰۹۳۷۹۹۴۰۳۳۲۳
بریښنا لیک: aihrc@aihrc.org.af

کابل، د لیندی ۱۸مه ۱۳۸۸، لمریز کال